بسم الله الرحمن الرحيم

د ملکي وګړو د خوندیتوب ګروپ رسنیزه اعلامیه

د ۱۳۹۴ کال د وري ۲۶ / 2015 د مارچ 15

ننني افغانستان، د نړیوالو ځواکونو په وتلو پسې، افغان ځواکونو ته د امنیتي مسؤولیت سپارلو او نوي حکومت جوړولو، له سختو امنیتي، سیاسي او اقتصادي شرایطو د تېرېدوپه حال کې دی چې د ملي وحدت نوی رامنځته شوی حکومت له دې شرایطو سره د مقابلې، د سولې او ثبات د ټینګښت او د افغانستان د استوګنو لپاره د معیشت او عزتمند ژوند برابرولو لپاره د نړیوالو او سیمه ییزو بنسټونو او په ځانګړې توګه د خلکو له منځه د راپورته شوي مدني ټولنې همکارۍ ته اړتیا لري.

د دې واقعیت په درک کولو سره، د مدني ټولنې د فعالانو یو ګروپ چې د شتو ستونزو او ګواښونو په اړه پوهه او اندیښنه لري، تصمیم لري چې **" د ملکي وګړو د خوندیتوب ګروپ "** د افغاني مدني ټولنې د نوښت په توګه د ملکي خلکو د ملاتړ او حقونو خوندیتوب لپاره، په ځانګړې توګه د لري پرتو کلیو اوسیدونکو لپاره، **د ملګرو ملتونو د خوندیتوب د افغاني کلستر** سره په نژدې اړیکه کې رامنځته کړي، څو بې له دې چې عمر، جنسیت، قومیت، ژبه او نورو توپیرونو ته پام وکړي د ملکي وګړو د خوندیتوب او انساني امنیت اهمیت د افغانستان دولت او نورو ټولو اړوندو ته ورپه زړه کړي.

ګروپ د مدني ټولنې د بنسټونو له غړو جوړ دی چې له راروانو کلونو په ټول هېواد کې په بېلابېلو برخو کې فعالیت کوي لکه د ټولنې زیانمنو خلکو د بشري حقونو د خوندیتوب ملاتړ، چاپېریال ساتنه، عامه پوهاوی، د کاري وړتیاوو لوړول او د سولې او ثبات ټینګښت لپاره بې شمېره تجربې لري. د اړیکو دفتر (TLO) د (OSA) د مالي مرستې په همکارۍ د ګروپ د غړیتوب تر څنګ، د ټولو اړوندو بنسټونو سره د پروسې د اسانچاري، د ګروپ د فعالیتونو تر منځ د همغږۍ او اړیکو ټینګولو دنده لري.

د امنیت، اقتصاد، ټولنیزو خدمتونو(په ځانګړې توګه د عامې روغتیا او ښوونې او روزنې)، چاپېریال او په اداره او قضا کې د پراخ فساد شتون د اړوند کار هغه شته ستونزې دي چې د ګروپ د پاملرنې وړ کلیدي موضوعات تشکیلوي.

د ټول هېواد د اتباعو د حقونو د ملاتړ غوښتنه، په ځانګړې توګه د ځوانانو، بې ځایه شویو، فقیرانو، بېځو، معلولینو او معیوبینو د حقونو غوښتنه د مستندې او پر شواهدو ولاړې څېړنې او پالیسیو لیکلو له لارې د افغانستان دولت، نړیوالې ټولنې او ټولو اړوندو ته د دوی غږ رسول د ګروپ له لومړیتوبونو څخه دي.

په افغانستان کې موجوده شرایطو د خوندیتوب اړوندو موضوعاتو لپاره د هدفمن ملاتړ سخته اړتیا رامنځته کړې ده او د ملکي وګړو د خوندیتوب ګروپ جوړېدل په دې اړه هڅو کې د ونډې اخیستنې یو مهم ګام او د مستندو څېړنو پر بنسټ د مدني ټولنې د لا ډېرو فعالیتونو سبب دی.

مونږ هغو ټولو لیوالو بنسټونو ته بلنه ورکوو چې د ملکي وګړو د خوندیتوب په برخه کې ګډه اندیښنه لري چې زمونږ له کډو هڅو سره ملګري شي څو په افغانستان کې ټولنیز خوندیتوب ببرته خپل اصلي ځای وموميي.